# بسم الله الرحمن الرحيم

# د قضايي روژو په اړه فقهي نظريات

**Ig Purwantama ته**

**ژباړه:**

**پوښتنه:**

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

ښاغلی شېخ صاحب، غواړم د دغې موضوع په تړاو د الله سبحانه وتعالی په حکم پوه شم، ترڅو زړه مې ډاډه شي. زه په جاهليت کې وم او ما پرته له کوم عذر څخه په قصدي ډول روژې نه نيولې. وروسته الحمدالله، ما د الله سبحانه وتعالی په فضل توبه وکړه.

زه څنګه کولی شم د خپلو قضا شويو روژو قضايي راوړم؟ ايا زه هر کال فديه ورکړم يا يوازې د قضايي روژې نيول بسنه کوي؟ هيله لرم چې زما يادو پوښتنو ته ځواب راکړئ زموږ شيخ صاحب!

**ځواب:**

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

زما وروره، تاسې ويلي چې پرته له کوم عذر څخه مو په قصدي ډول د يو څه مودې لپاره روژې نه دي نيولې او بيا له دغو کلونو وروسته الله سبحانه وتعالی تاسو ته د هدايت لار وښوده او اوس روژه نيسئ... د تقوا له امله غواړئ چې د رمضان مياشتې د قضا شويو روژو قضايي راوړئ. د الله سبحانه تعالی حمد دې وي چې تا ته يې نيکه لاره در وښودله. تاسو نه يوازې داچې اوس روژه نيسئ، بلکې د رمضان مياشتې د قضا شويو روژو قضايي هم راوړئ. الله سبحانه وتعالی دې د برکتونو او خيرونو څښتن کړه او الله سبحانه تعالی دې د غوره توبې توان درکړي.

ګرانه وروره، موږ د عباداتو په برخه کې تبني نه کوو. موږ دا برخه مسلمانانو ته پرېږدو چې د روژې، لمانځه او نورو عباداتو په برخه کې د کوم مذهب پيروي وکړي. زه به تا ته د قضا شويو روژو په اړه ځينې فقهي نظريات وړاندې کړم، ته کولی شې هغه نظر تعقيب کړې چې ستا زړه ته ډاډ او سکون درکوي:

۱ – عبدالمالک الجويني چې د حرمينو په امام مشهور دی (د وفات نېټه ۴۷۸ هـ.ق) او د شافعي مذهب فقيه دی، په خپل کتاب «نهاية المطلب في دراية المذهب» کې ليکي: «هغه کس چې د رمضان مياشتې روژې ترې پاتې شي او د دې توان لري چې قضايي يې راوړي، ده ته نه ده روا چې د راتلونکي کال تر رمضان مياشتې پورې يې وځنډوي. دا د ده لپاره غوراوی نه، بلکې پرې واجب دي؛ البته په هغه صورت کې چې دی يې توان ولري او له کوم عذر سره نه وي مخ شوی. که د راتلونکي رمضان مياشتې پورې پرته له کوم شرعي عذر څخه ځنډ پکې راغی، نو بيا دی مکلف دی چې د هرې قضا شوې روژې سره د هغې د فديې مد (پيمانه) ـ چې د خوړو يو مقدار دی او د هرې قضا شوې روژې سره ورکول کېږي ـ بايد ورکړي. که چيرې دی تر دوو يا زياتو کلونو پورې قضا شوې روژې وځنډوي او قضا يې را نه وړي، نو د فديې زياتېدلو په تړاو دوه نظرونه شته. لومړی: «په فديه کې زياتوالی

نه راځي، هغه اندازه چې د یوه کال لپاره ټاکل شوې ده، هغه د ډېرو نورو کلونو لپاره هم بسنه کوي؛ خو غوره دا ده چې په فدیه کې ډېروالی او بدلون راشي. یعني د هر کال ځنډول باید د فدیې د مد په ورکولو سره جبران شي. که دی د دوو کلونو لپاره د روژې قضایې وځنډوي، دی به د قضا شویو روژیو په اندازه دوه چنده د فدیې مد ورکوي، دا چې کلونه زیاتېږي په هماغه اندازه به یې فدیه هم ډېروي.» یعنې هغه کسان چې روژه ترې قضا شوې وي باید د راتلونکې رمضان میاشتې تر رارسېدو وړاندې قضا شوې روژې ونیسي، که د راتلونکي رمضان میاشتې تر رارسېدو پورې ونه نیول شي، نو باید د روژې قضا راوړي او فدیه یې هم ورکړي. بل نظر یې دا دی: «که یو کس خپله قضا شوې روژه تر دوو کلونو پورې وځنډوي، نو دی باید د روژې د نیولو تر څنګ دوه چنده فدیه ورکړي او په دې ترتیب د کلونو د شمېر په زیاتېدو سره باید فدیه هم زیاته شي.»

۲- منصور بن یونس البهوتي الحنبلي (د وفات نېټه ۱۰۵۱هـ.ق) په خپل کتاب «کشاف القناع عن متن الإقناع» کې لیکي:

«له چا څخه چې ټولې یا ځینې روژې قضا شي... قضا شوې روژې باید ونیسي... دا روا ده چې د راتلونکې رمضان میاشتې تر هلال پورې یې وځنډوي... خو دا روا نه ده، چې له کوم شرعي عذر پرته یې تر بلې رمضان میاشتې پورې وځنډوي. که دغه ځنډ تر راتلونکې رمضان میاشتې یا تر هغه وروسته رمضان میاشتو پورې دوام ومومي، نو یاد کس به د روژې نیولو ترڅنګ یو تن مسکین ته د هرې قضا شوې روژې په بدل کې خواړه ورکوي، ترڅو کفاره یې ادا کړي. په دې مانا چې د رمضان میاشتو د شمېر له امله یې فدیه نه تکرارېږي، ځکه چې د مودې په ځنډېدلو سره یې په وجوباتو کې زیاتوالی نه راځي. دا داسې ده لکه دی چې د څو کلونو لپاره فرضي حج وځنډوي، نو باید یو ځل حج ادا کړي.» یعنې هغه کسان چې روژې ترې قضا شوې وي او تر راتلونکې رمضان میاشتې پورې یې قضایي نه وي راوړې، دوی باید خامخا روژه ونیسي او فدیه یې ورکړي.

۳- په حنفي مذهب کې یوازې د روژې قضایې راګرځول اړین دي، که څه هم دا قضایي د اوږدې مودې لپاره ځنډېدلي وي. که راتلونکې د رمضان میاشت راشي... یو کس باید یوازې خپلې زړې قضا شوي روژې ونیسي او فدیې ته اړتیا نشته.

سرخسي (د وفات نېټه یې ۴۸۳هـ.ق) په کتاب «المبسوط» کې وایي: «یو کس باید د رمضان میاشتې قضایي روژې ونیسي، خو که د راتلونکې رمضان میاشتې تر رارسېدو مخکې یې ونه نیسي، نو باید د بل رمضان تر رارسېدو دې یې ونیسي او فدیې ورکولو ته اړتیا نشته. دا زموږ نظر دی خو د شوافعو له نظره «الله سبحانه تعالی دې پر دوی ورحمېږي» یو کس باید د روژو پر نیولو سربېره هره ورځ یوه مسکین ته ډوډۍ هم ورکړي. موږ د الله سبحانه وتعالی دغه قول د دلیل په ډول راوړو: [**فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّام أُخَرَ**] ژباړه: نو یو معلوم شمېر ورځې روژه باید ونیول شي. [البقرة: 184] دلته کومه موده نه ده ځانګړې شوې. د دوو رمضان میاشتو ترمنځ وخت زیادت دی، روژه یو موقتي عبادت دی او د قضایي راګرځولو لپاره یې وخت نه دی ځانګړی شوی.»

علاوالدين الکاساني الحنفي (د وفات نېټه ۵۸۷ هـ.ق) په خپل کتاب «بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع» کې ليکي: «زموږ په مذهب کې د روژې د قضايي راګرځولو لپاره وخت نه دی ځانګړی شوی، ځکه چې موږ مخکې ويلي چې د روژې قضايي راګرځول مطلق دي، د وخت په اړه کوم محدوديت نه لري او په هر وخت کې نيول کېدلی شي. له همدې امله موږ وايو چې که يو څوک قضا شوې روژې تر راتلونکې رمضان مياشت پورې وځنډوي، نو فديه ورکول پرې نه لازمېږي.» يعنې چې د ابوحنيفه د مذهب پر بنسټ له فديې ورکولو پرته بايد قضايي روژه ونيول شي او يوازې د هغې مياشتې روژه بايد ونيول شي، چې قضا شوې وي.

ما په لومړي سر کې هم يادونه وکړه، چې موږ د عباداتو په برخه کې تبني نه کوو. ما درته د ابوحنيفه، شافعي او حنبلي فقهې نظريات ياد کړل؛ اوس د هغه نظر پيروي وکړه چې ستا زړه ته ډاډ او سکون ورکوي... الله سبحانه وتعالی دې په هغه څه کې مرسته درسره وکړي، چې د هغه سبحانه وتعالی د رضايت لامل ګرځي.

زه هيله لرم چې تاسو به خپل ځواب ترلاسه کړی وي، الله سبحانه وتعالی پوره عالم او حکيم ذات دی.

**ستاسې ورور،**

**عطا بن خليل ابو الرشته**

**۱۴۴۰ هـ.ق د رمضان ۸ مه**

**۲۰۱۹ م د مې ۱۳ مه**

**ژباړن: صديق احمدزی**